# مورنۍ ژبه، تعلیم، رسنۍ اوروزګار

## (یو تنقیدي جاج)

1. Dr. Abaseen Yousafzay, Islamia college University, Peshawar, corresponding author


## Abstract

In this research paper the role of Language, Education and Media is discussed with reference to the importance of the mother tongue. The importance of mother tongue in all the mentioned three departments is vital and extra ordinary. In this respect elaboration from the countries having their own media, educational system in their mother tongues has been made. Some of the very prominent and dominant dimensions in these three are highlighted. Moreover, comments against education in mother tongue are critically analysed and answered.


**Keywords** مورنۍ ژبه **پښتو** Education پښتونخوا

مورنۍ ژبه دَ بنیادم سره دې دنیا ته راځي کله چې ماشوم ورو ورو دَ مور په غېږه کښې دَ اشیاؤ پېژندګلي کوي، هغه په نامو بلي، دَ خپل ما فی الضمیر پرې اظهار کوي دغه مورنۍ ژبه ده. دَ ځینو ماهرینو دا خیال دے چې بنیادم تر مودو دَ ژبې دَ نعمت نه محروم وو او دَ خپل پیدائش نه ئې زرګونه لکهونه کاله وروستو خبرې کول زده کړل.

دې پورته خیال سره دَ قرآن مجید تعلیمات متفق نهٔ دي. ولې چې په هغې کښې دَ انسان دَ عظمت او یو بل نه دَ امتیاز په حقله ژبې (نطق) ته بنیادي اهمیت ورکړے شوے دے. انسان ته دَ نطق په وجه اشرف المخلوقات وئیلے شوے دے. دا خبره ثابته ده چې انسان دَ اولې ساه نه خبرې کولے شوې او ژبه دهٔ سره وه. قرآن کښې ارشاد دے:

"وَ عَلم آدم الاسماء کُلهَا"[i]

ترجمه: او آدم (ع) ته دَ هغه ټولو څیزونو نومونه وښودلي شول.

یوه بله خبره هم مخې ته راځي چې په جنت کښې دَ آدم بابا او دَ حوا ابۍ او ابلیس تر مېنځه خبرې اترې خامخا په یوه ژبه کښې کېدلې.په دې اړه قرآن او حدیث ګڼ شمېر حوالې او وضاحتونه لري چې دا وخت ئې راوړل ممکن نهٔ دي. دَ هابیل او قابیل تر مېنځه به خامخا دَ خیالاتو تبادله په یوه ژبه کښې شوې وي( پروفېسر پرېشان خټک صېب به اکثر په خپلو تقریرونو کښې وئیل چې دَ هابیل او قابیل تر مېنځه کومه کشاله پېښه وه او کوم منطقي انجام ئې موندلے ؤ دغه رنګ په پښتنه ټولنه کښې شوي دي په نورو ټولنو کښې مثال نهٔ لري).

دَ ژبې دَ قدامت او ابتداء په حقله خیال بخاري لیکي:

دَ دنیا یوه قبیله یا کورنۍ هم داسې نشته چې هغه دَ خیالاتو دَ اظهار دَ پاره څهٔ نا څهٔ ژبه نهٔ لري. اګرچې وئیلے شي چې ځینې قبیلې داسې هم شته چې دَ هغوي دَ ژبې الفاظ دومره لږ وي چې تر کومې دغو الفاظو سره څهٔ خاص قسم اشارې (Gestures) یو ځائے نهٔ کړي نو بل ئې په مطلب نهٔ شي پوهېدے او دغه

وجه ده چې په تیارهٔ کښې دَ هغوي دَ پاره خبرې کول ناممکن شي.......... اندازه لګولے شوې ده چې په موجوده وخت کښې په دنیا کښې تقریبا اووهٔ زره ژبې موجودې دي[ii].

دَ حمزه بابا په خیال دَ دنیا دَ هر ماشوم ورومبۍ ژبه پښتو ده:

خدائے زده چې څهٔ راز دے په بابا او په ماما کښې
وِرد وي دَ ماشوم دغه الفاظ په ابتدا کښې
هم په ابتدا کښې ئې په خُلهٔ باندې دادا وي
هم ئې کله کله په خبرو کښې کاکا وي
ښکاري راته دا چې فطرتي ژبه پښتو ده
ګویا دَ اول نه انساني ژبه پښتو ده[iii]

دَ نړۍ ټول دانشوران او سیاستمداران په دې خبره یوه خلهٔ دي چې دَ دنیا هغه قامونه مخ په وړاندې تللي دي دَ چا ژبه چې دَ مکتب، دَ دفتر او دَ روزګار ژبه ګرځېدلې ده ـ دغه مثالونه دَ چین، جاپان، فرانس، جرمني ټول یورپ او امریکې په شکل کښې زمونږ په وړاندې دي او کله چې مونږ د خپل چاپېرچل ننداره کوو نو حېران پاتې شو چې مونږ په داسې وطن کښې وُسېږو چې دَ هغې قامي ژبې په سکولونو کښې وئیل او قامي لباس په سکولونو کښې اغوستل جُرم ګڼلے شي ـ

ژبه دَ ثقافت دَ ملا تیر ګڼلے شي. هېڅ یو ثقافت بې له ژبې وده نهٔ شي کولے. دَ ژبې دَ اهمیت په حقله حمزه صېب په خپل یو نثري لیک کښې څهٔ داسې لیکي:

"دَ یو قام دَ محو کولو دَ پاره دَ دې نه لوئے اهم بل هیڅ اقدام نهٔ شي کېدے چې د هغه نه خپله ژبه واخستے شي. او دَ هر څهٔ نه اګاهو دَ هغه دَ تباه کولو پروګرام دَ هغه دَ ژبې دَ پرکټ کولو نه شروع کیږي. او کوم وخت چې دَ یو قام دَ افرادو په ذهن پردۍ ژبه مسلطه شي. دَ هغه قام دَ ذهن هنداره تته شي. دَ هغه قام نفسیات بحراني چپې په مخه واخلي. دَ هغه دَ قامي روایاتو نه مسلسلي سلګۍ جوړې شي. دَ هغه لاشعور یو څهٔ غوارې او فوق الشعور ورته نور نور څهٔ وړاندې کوي. دَ فوق الشعور لار ئې دَ اجنبي ژبې دَ قافلو دَ ګرد نه ډکه وي. او په داسې حال کښې هغه فېصله نهٔ شي کولے. او دَ دې بحراني حالت په نتیجه کښې هغه دَ کمترۍ دَ احساس ښکار شي او هغه دَ ژوند دَ تقاضو نه په تورو پښو تښتنه اختیار کړي."[iv]

دَ حمزه صېب برنے لیک دا ثابتوي چې دَ یو قام دَ وجود ثابتولو دَ پاره ژبه دَ ټولو نه زیات اهمیت لري. قام یواځې په ژبه اړه نهٔ لري نور هم ګڼ حقیقتونه شته خو ژبه تر ټولو غوره ده. دَ ژبې په تناظر کښې لږه دَ نړۍ دَ نورو هېوادونو ننداره کووبیا پښتو له راځو.

په یوولسمه صدۍ عیسوي کښې چې کله په یورپي ملکونو دَ یوناني او لاطیني خیالاتو یرغل ؤ او په اسلامي هېوادونو دَ عربۍ او فارسۍ غلبه وه ـ دغه وخت دَ بدلون یوه هوا راغله چې یورپ ترېنه زده کړه وکړه او اکثر مسلمانان ملکونه دَ هاتي په غوږ کښې اودهٔ پاتې شول: دَ دغه بدلون کوم چې یورپ قبول کړو، بنیادي توکي درې وو.

1. تعلیم دې په مورنۍ ژبه کښې وي او تعلیم دې دَ ماشوم دَ فطري غوښتنو مطابق وي ـ
2. په ځائے دَ دې چې بچے دې دَ راتلونکي ژوند دَ پاره تیار کړے شي ـ دَ دهٔ موجوده ژوند دې ښهٔ کړے شي ـ
3. تعلیم دې یواځې دَ مالدارو دَ بچو دَ پاره نهٔ وي بلکې دَ قام دَ هر بچي دَ پاره دې وي ـ بچي دې دَ تعلیم سره لږ ډېر هُنر هم زده کړي او دَ قام ګټور وګړي دې وګرځي ـ

خو له بده مرغه نن په یوویشتمه پیړۍ کښې هم دغه ځائے ته رسېدل خو لرې خبره ده مونږ پېژل هم نهٔ دے کړے ـ په هغه لاره لا نهٔ یو ورسم شوي په کومه لاره چې نهٔ سوه کاله وړاندې یورپیانو خپل بچي ورسم کړي دي ـ زمونږ موجوده تعلیمي نظام دَ بچو نه رؤ ګودر خطا کوي ـ بچے بیا نهٔ دَ ځان شي او نهٔ دَ

جهان ـ مونږه لګيا يُو پي ايچ ډي نالوستي پيدا کوو۔ په ډېر ګټور مضمون کښې به شلم پاس وي خو دَ خپلې ژبې دَ ليک لوست او معياري وېنا نه محرومه، دَ خپل تهذيب،ثقافت او تاريخ نه بې خبره لکه دَ پردو، په دۀ کښې او پردو کښې هېڅ فرق نۀ وي ـ يو جرم ئې دا چې خپله ژبه ليکل لوستل نۀ ورځي او بل جرم دا چې په ښکاره جاره په فخر دا وائي چې "ما له خو پښتو ليکل او لوستل نۀ راځي" دَ ادب دَ يو ښوونکي په حېث دغه وخت ما له شرم هم راځي او غصه هم چې زمونږ بازونه په خوي خصلت کارغان، زمونږ زمري لکه ګيدړان ـ لږ فکر پکار دے چې زمونږ بچي جرګه، حجره، اشر، ننواتي او دَ دغسې نور قدرونه په نامه کېدے شي وپېژني خو دَ حقيقت نه ئې نا خبره دي ـ دوي برتهه ډے او وېلنټائنز ډے او دغه رنګ د نورو تهذيبونه روايات ښۀ پېژني ـ ځکه زما دا ګيله په ځائے ده چې زمونږ نوے کهول زمونږ وطن زمونږ قام او زمونږ خاورې له نۀ تيارېږي ـ پردي وطن او پردي خدمت له تيارېږي ـ نۀ نصاب زما دے او نۀ نظام زما دے۔ نۀ ميډيا زما ده ـ وي به، دَ پښتو ميډيا به هم وي خو دَ پښتنو ميډيا نۀ شته نو زۀ څنګه په خپل بچي دَ خپلوۍ دعوۍ کولے شم ـ

دَ ژبې دَ ضرورت او اهميت په حقله مولانا عبدالقادر ليکي:

> "دَ کلچر يا ثقافت په اجزاؤ کښې ژبه يو ډېر اهم مقام لري. او دَ يو کلچر دَ محفوظ ساتلو او هغۀ له دَ دوام ورکولو دَ ټولو نه محکمه آله ده. ژبه دَ انسان دَ مادي ملکيت يا اولسي رسم و رواج په شان نۀ دي ګڼل پکار ځيني خلق دا عقيده لري چې ژبه هم لکه دَ يو آلې ده چې انسان ئې استعمالوي"[v].

نوره دنيا خپلو بچو ته دَ مکتب په وړومبي ټولګي او کله کله په لوبو لوبو کښې نفسياتي، روحاني، سائنسي او اخلاقي تجربې او تجزيې ښائي اومونږ خپل تعليم يافته ځوان کهول ته چې ځوارلسم او شپاړسم ئې پاس کړے وي دَ مقابلې په امتحانونو (PMS/CSS) کښې شريکېدونکو زلمو او پېغلو ته چې کله پښتو ژبه او ادب ښايو نو دَ "الف بې" نه ورته پېئيل کوو۔ دَ پښتو دَ مخصوص تورو تلفظ او جوړښت ورته ښايو ـ دَ پښو دَ لهجو، هجّو او تلفّظ سره ئې اشنا کوو۔ دَ مقابلې په امتحانونو کښې شاملېدونکو زلمو او پېغلو ته دَ تيارۍ ورکوونکي استاذان چې دَ کوم زغم، برداشت او خفګان نه تېرېږي دَ دې اندازه تاسو ته صرف متعلقه استاذ کولے شي ـ

زۀ کله کله حېرانېږم چې دَ پښتون غونډې دَ تهذيب او تمدن په کالو ښائسته او دَ رواياتو او د دود دستور په رڼا روڼ قام کۀ يو خوا ته دَ حالاتو دَ ناوړتيا په سېلاب ور لاهو دے نو بل خوا دَ خپلې بې حسۍ او بې وسۍ دَ لاسه هم په ټينډکونو دے ـ

انور خان ديوانه وئيلي دي :

> دلته ځوک خاوند د نظر نشته چې مې پورته کړی
> زۀ د دانو ډک وږے شـــتو تـه چا ويشـــتلے يم

تعليمي مېدان کښـې دَ ژبې دَ اهميت او ضـرورت په حقله ښـاغلے داور خان داؤد دَ ډاکټر شـبر زمان طائزي په حواله ليکي:

> " دا خبره د نړۍ په تاريخ کښې لکه د نمر ځرګنده ده چې د يو قام د ترقۍ او ښېرازۍ بنياد علم دے بغېر د علم نه ترقي ناممکنه ده او د علم په صـــحيح طريقه د حاصـــلولو د پاره د ټولو نه اهمه مورنۍ ژبه ده. ژبې د قامونو د پېژندګلۍ د پاره بې کچه ضـــروري دي. باچا خان به وئيل چې ژبه ســپکه شــي نو قام ســپک شــي او چې ژبه ورکه شــي نو قام ورک شي"[vi].

په مورنۍ ژبه کښې دَ تعليم دَ ارزښت، ضرورت او اهميت په باب پروفېسر درويش دُراني يوۀعاميانه ساده باده مثال راوړي چې ډېر منطقي لګي:

**" په پاکستان کي چي له انګرېزي ژبي سره کومي ګټي ترلي شوي دي، هغو دغه ژبه د اولس په نظر کي دومره اوچته کړې ده، لکه په بېلابېلو خوړو کي چي موږ غوښه زيات د ارزښت وړ خواړهٔ بولو، اردو ته بيا د ملي ژبي د درجي تر څنګ د رابطي د ژبي ځاى هم ور په برخه شوے دے. په دې که د انګرېزۍ هومره يو څوک قدرمن کېداى نهٔ شي، خو د هغي په مقابل کي يې حېثيت داسي بيا هم دے، لکه د پسه د غوښي په مقابل کي د چرګ غوښه. اوس نو لکه څنګه چي د غوښي دغه دوه ډولونه که هر څو د ارزښت وړ دي، څوک داسي بيا هم نه کوي چي خپل تازه زوکړي ماشوم ته يې سمدلاسه ور شروع کړي. هغه اړ وي چي تر يوه ټاکلي وخته پوري د مور شودې ورکړي. همداسي اردو او انګرېزي که هر څو ګټوري ژبي دي خو ښوونځي ته په لومړي ځل د ورننوتونکي پښتانهٔ ماشوم ذهني هاضمه دومره قوي نهٔ وي چي له دغو دوو ژبو سره ګزاره وکړاى شي."[vii]**

دَ قام په ارتقاء کښي دَ ژبي دَ کردار په حقله پروفېسر نظر پانيزے ليکي:

"ژبه د قامونو په ارتقاء کښي ډېر لوئے رول لوبوي. مونږ وينو چي په نړۍ کښي هيڅ يو قام داسي نشته چي هغه دې دَ خپل ارتقائي سفر دَ پاره د اغيارو ژبه پکاروي. راشئ لږ وګورو چي کومو قامونو نن پرمختګ کړے دے. دَ هغو دَ علم او د هنُر ژبه کومه ده. او دَ چا او دَ چا ده. انګرېز قام په انګرېزۍ کښي خپلو بچيانو ته درس ورکوي. فرانس په فرانسوي کښي، روس په روسي کښي، جاپان په جاپاني کښي، چين په چيني کښي، ايران په ايراني کښي او عرب په عربي کښي او دغه رنګ نور قامونه، خو بدبختانه دا يو پښتانهٔ دي چي د بل په ژبه ځان پر مخ بيائي او نو نتيجه ئې هم ښکاره ده. چي لا تراوسه په هغه کېږدۍ کښي ناست دي. او هغي سپوږمۍ ته لاس پورته دعا کوي. پر کومه چي انګرېز، روس او نور قامونه وختل."[viii]

دَ ژبي او ثقافت په حقله دَ بي غورۍ او بي ارزۍ په باب دَ پښتنو قيصه عمر ګل عسکر وړاندې بوځي.

"دَ پښتو ژبي دَ قدر ناشناسۍ سوب ځان ته جدا بحث غواړي. خو په لنډه کښي به دا ووايم چي دَ دې سوب په پښتني ټاټوبي دَ غېرو قامونو څپاوونه او حاکميت دے. چي دَ ځانه سره ئې خپلي ژبي راوړې دي. چي آثار ئې په تاريخي کتبو کښي ميندل کېږي. او بلې خوا ته دا هم ترې څرګندېږي. چي نهٔ خو پښتو دَ غېرو ژبو اثرات قبول کړي دي او نهٔ حاکمه قوتونو دَ پښتنو دَ عامي بي سېوادۍ له کبله پښتو ته څهٔ اهميت ورکړے دے. بلکې په يوه لحاظ پښتو هغوي دَ پاره غېره ژبه وه. چي لا ئې دَ ليک او لوست دود او دستور نهٔ وو ايجاد شوے. "[ix]

پښتنو دَ خپلي ژبي او ثقافت د پرمختګ او روزني د پاره نهٔ په عوامي ډول څهٔ کوټلي ګامونه اخستي دي. او نهٔ په دولتي سطح داسي تاريخي اقدام شوے دے. يوه وجه خو ئې دا ده چي پښتانهٔ په پېنځوو ټوټو کښي وېش پراتهٔ دي. په افغانستان کښي خو بيا هم دَ نصاب، دَ ميډيا او دَ روزګار په ډګر دَ پښتو دَ پاره په سرکاري ډول وخت په وخت ګامونه اخستي شوي دي خو دَ پاکستان دننه په خيبر پښتونخوا کښي کله کله څهٔ لږ ډېر کار روان شي خو قبائيلي سيمه، بلوچستان او کراچۍ کښي څهٔ داسي حوصله افزا کار دَ ژبي او ثقافت په حواله ډېر کم وړاندې راځي.

دَ پښتو ژبي دَ حال په حقله سليم راز ليکي:

"پښتو ژبه دَ خپل ډېر عمر، زوړ والي او د تاريخ د ډېرو سختو چپو او دَ غېرو د ناروا سلوک باوجود نن هم توانا او ژوندۍ ده. دا د دې خبرې ثبوت دے چي پښتو ژبه لکه د پښتون قام ډېر مضبوط، فعال، مثبت او ترقي پسند روايات لري. "[x]

دَ سلیم راز صیب په برَنی نثر تېرته کښې اُمید او حوصلې ته زۀ خوش فهمي بالکل نۀ وایم ځکه چې د هغوي په خبره کښې تر ډېره حده صداقت موجود دے چې بې د سرکاري یا عوامي سرپرستی پښتو خپل وجود برقرار ساتلے دے او دغه شاید چې دَ پښتو ژبې خپله کوټلتیا او مضبوطیاوي ګڼي په شعوري ډول چا هم د دې د ضرورت مطابق روزنه، پالنه او ساتنه نۀ ده کړې. دَ پښتو ژبې دَ برقرار پاتې کېدو په حقله دَ ابتداء نه واخله تر اوسه پورې پړاؤ په پړاؤ دَ ډاکټر میا سهېل انشاء دَ یوې لیکنې ټوټه را نقل کوم:

1. "د غور د سوري حکمرانانو له لوري د پښتو د پالنې هڅې
2. د ملتان د لودي حکمرانانو له طرفه پښتو ته د ودې ورکولو هڅې
3. دَ بایزید پیر روښان، د هغۀ د مریدانو او په خواب کښې د مخالفینو له طرفه پښتو کښې لیک عام کول.
4. د خوشحال خان خټک له اړخه پښتو کښې په شعوري توګه لیکنې ته وده ورکول.
5. د شاه حسېن هوتک له اړخه قندهار کښې دَ ادبي دربار د سیوري د لاندې مشاعرې کېدل او شاعرانو ته انعامونه ورکول.
6. د څمکنو د میا عمر صیب د زوئے محمدي صاحبزده له طرفه پښتو کاتبان ساتل چې کتابونه عام کړي.
7. د انګرېز له طرفه د فارورډ پالیسی اختیارولو په خاطر پښتو زده کول او ورته وده ورکول.
8. د شمس العلماء علامه سید قاضي میر احمد شاه رضواني صیب له اړخه پښتو ته د پنجاب یونیورسټۍ د شرقي علومو په کورس کښې ځائے ورکول.
9. د باچا خان په قیادت کښې د انجمن اصلاح افاغنه له طرفه مشاعرې او ډرامې پېش کېدل او د پښتون (رساله) اجرا هم کېدل.
10. د سوات والي میا ګل عبدالودود باچا صیب له طرفه پښتو د سوات سرکاري ژبه ګرځېدل او ورته وده ورکول.
11. وزیر صیب محمد ګل خان مومند له طرفه د دوئ په کوششونو پښتو عام کېدل او په آئین کښې ورته قانوني حېثیت ورکول.
12. د نصر الله خان نصر په مشرۍ کښې د "ادبي ټولي" له طرفه پښتو ژبه خوروَل.
13. جدید تحقیق او خصوصاً تنقید ته د ودې ورکولو په لړ کښې د کامل، حمزه او کاکاجي شعوري کوششونه او "اولسي ادبي جرګه" وجود کښې راتلل.
14. په ګرده پښتونخوا کښې د پښتو ادبي جرګو مجموعي رول.
15. د تنقیدي پهلو باوجود پښتو فلمونو له طرفه پښتو عامولو ته وده ورکول.

دغه رنګ د سلیم راز، جعفر خان اچکزي، سلیم بنګش او اسیر منګل وغېره په مشرۍ کښې عالمي پښتو کانفرنسونه او کنونشنونه کېدل. د دې سره سره د پي ټي وي، رېډیو پاکستان، خیبر ټي وي او نورو ګڼو چېنلونو خپرېدل. د کمپیوټر، انټرنېټ او ټیلي فون په دنیا کښې د پښتو وده او دغسې نور. "[xi]

د پروفیسر داور خان داؤد مطابق د ضابطۀ تعلیم (صوبه سرحد ۱۹۳۵ء) او دغه شان د صدر یحییٰ (۱۹۶۹ء) په وخت کښې و ضع کړې شوې تعلیمي پالیسی کښې مورنۍ ژبه د تعلیم وسیله ګرځولې شوې وه. بنیادي وجه هم داده چې پښتنانۀ ماشومان په ګڼ شمېر کښې خپل تعلیم نیمګړے پرېږدي او سکول ته شا کړي. د انګرېزانو په زمانه کښې هم د تعلیم د پاره یوه ضابطه جوړه شوې وه، د هغې تر مخه د صوبه سرحد د پرائمرۍ استاد له د پښتو زده کول او د پښتو په پرچه کښې پاس کېدل لازمي وو[xii].

زمونږه جرګې مرکې چې دنیا ترینه دَ تاڼې تحصیل، عدالت کچهرۍ او پارلمنټ تصور اخستے دے ، نن سبا دَ دروغو، ټګۍ برګۍ او چل ول مرکزونه ګرځېدلي دي ـ شمله وال ټګڼن او دروغژن پګښې ناست دي دَ خپلې رضا دَ عدل او انصاف تمبل غړوي او روپۍ ټولوي ـ زمونږ حجرې لکه مقبرې سړې پرتې دي ـ نۀ ترې دَ مېړنو زوږ شور راځي او نۀ دَ رباب منګې ټنګ ټکور، لارې کوڅې لکه چې شاړې مېرې ـ داسې لګي لکه چې پښتونخوا تېز زول یا سیلاب خوره وره کړې وي ـ دا ویجاړې، دا پرېشانې او دا بې خوندي چا

راوسته، څنګه راغله او ولې راغله نورې قيصې نورې دي خو دَ درويش دراني دغه شعر ئې په ښهٔ ډول ترجماني کوي:

مـا خپلـه توره کړه دَ ورور پـه زړهٔ کښـــې مـا تـه خدايـه
دښـــمن چې راغـے زهٔ پـه دوه لاســـــه ووم پـا تـه خدايـه[xiii]

دَ لرې پښتونخوا پښتانهٔ دَ بې شمېره ستونزو سره مخ دي خو دَ پاکستان دننه اوسېدونکي دغه پښتانهٔ دَ خپل قوميت په ځېر کښې دَ کښېناستو په ځائے دَ پاکستان دننه دَ ميشته نورو قامونو سره دَ اسلام په دالان کښې ناسته غوره کوي ـ زمونږ دَ اجتماعي استوګنې وداني په مذهب ټينګه ولاړه ده خو کهٔ چرې دَ قاميت او مقاميت په معامله غور وکړے شي نو پښتنو تل په پاکستان دننه دَ خپلې ژبې او خپل سيمه ايز اختيار غوښتنه کړې ده او په دغه لړ کښې دَ پښتنو غږ لکه دانګې ببرته راتمبېدلے دے ـ دغه حال دَ ابلاغي وسيلو سره هم شوے دے ـ دَ ژبې او قام دَ تعمير او ترقۍ جذبه لرونکې دَ پښتو ورځپاڼې، مُجلې او ټي وي يا رېډيو چېنل ته اول دَ چلولو اجازه نهٔ شي ورکولے کهٔ چرې دَ دغې اجازې پروانه ورکړلے هم شي نو بيا ورته قانون دومره سخت او ناروا جوړ کړے شوے وي چې زمونږ دغه قوتونه هډو وده ونهٔ کړے شي او دَ دې دَ پاسه دَ ټولو غټ ظلم دا چې پښتنې ميډيا ته دَ سرکاري اشتهار ورکول هم ناروا ګرځولي شوي دي، کوم افسر چې دَ پښتو دَ ميډيا دَ مرستې په جُرم کښې ککړ شي نو هغه په مودو مودو بيا ځائے له نهٔ راځي ـ سر وهلے بر وهلے در په در په ګرځېدو مجبوره وي ـ
البته دَ پښتو ميډيا ادارې چې دَ هغې مالکان پښتانهٔ نهٔ وي نو هغو ته دَ سرکار له کوره په خلاص مټ ورکړه هم کيږي او هر انعام او اکرام هم ډېر په سخاوت ورکولے شي ـ دَ مودو راهيسې په درځنونو پښتانهٔ دټيلي ويژن او رېډيو دَ لائسنيس دَ پاره ورونه ټکوي خو دَ پښتو دَ چېنل دَ پاره دَ مرکزي حکومت له خوا په ټاکلي معيار دَ نهٔ پوره کېدو له کبله دَ دغه نعمت نه محروم دي ـ يعنې دَ پښتو دَ چېنل لائسنس (اجازت نامه) پښتون ته نهٔ شي ورکولے کېدے ـ که زما خبره دروغ وي نو لوستونکي دې لږ دَ پښتو دَ شمېر دَ يو څو رېډيو او ټي وي چېنلونو دَ مالکانو نومونه او قامونه معلوم کړي ـ
دَ دې سره سره په سرکاري ټيلي ويژن پښتو ته ورکړے شوے وخت ورځ په ورځ کميږي لګيا دے ـ په پېښور ټيلي ويژن کښې پخوا دَ پښتو دَ پاره روزانه دوه ګېنټې وې او اوس په پوره هفته کښې دوه ګېنټې دي ـ پاتې درې واړو صوبو له پي ټي وي پوره چېنلونه ورکړي دي او دَ پښتو پي ټي وي نېشنل په پوره هفته کښې شپږ اتهٔ ګېنټې او هغه هم کله وي او کله نهٔ وي ـ
دَ هر قام په مادي او معنوي پرمختګ کښې دَ ادب عموماً او دَ شاعرۍ خصوصاً غټه برخه وي ـ دَ هر متمدن قام په ارتقائي تاريخ کښې ادب ښکاره او مهمه برخه لري ـ ادب دَ قام په اخلاقياتو، روحانيت او ذهنيت کښې ښکاره بدلون راولي ـ دَ ادب دَ خوروني ادارې ميډيا او نصاب دے چې دغه دواړه دَ عصري غوښتنو سره بيخي سمون نهٔ لري ـ استاد دَ تهذيب تمدن او ثقافت نه خبردار او عملي نمونه پکار دے ـ زما دَ قام استاذان زما دَ ژبې، قام او نسل دَ ارزښت او اهميت نه ناخبره دي.د شاګردانو نه وړاندې اُستاذانو ته د تعليم او تربيت ضرورت دے ـ
سېف الرحمان سليم په دې حقله زما کار اسان کړے دے فرمائي:

دَ جومـات مُلا عرب دے پـه مکتـب کښـــې دهلي وال دے
يو اســـتـاد رالـه پيـدا کړئ خو پښـــتون رالـه پيـدا کړئ[xiv]

يوه ضمني واقعه رايادېږي ـ دَ پښتونخوا صوبې د امير حيدر خان هوتي صېب تېر حکومت چې کله اعلان وکړو چې دَ کچه ادنٰی نه تر دولسم ټولګي به سره دَ پښتو دَ صوبې پنځهٔ غټې ژبې دَ لازمي مضمون په توګه په سکولونو کښې ښودلے شي ـ دَ پښتو دَ نصاب دَ کريکولم جوړولو دَ مشرۍ ذمه واري زما په برخه ورسېده ـ کله چې مونږ دَ سکولونو، کالجونو او يونيورسټيو دَ څلوېښتو اُستاذانو، شاعرانو، اديبانو دَ څلوېښت ورځو په کړاؤ يو اعلٰی معياري کريکولم تيار کړو نو په اخري ورځ دَ تعليم دَ ماهرانو په وړاندې ما په ملټي ميډيا دَ دغه نصاب ننداره ښودله او دَ دې سره سره مې دَ ملګرو په صلاح دا غوښتنه هم وکړه چې څهٔ رنګه په سکولونو کښې Senior English Teacher (S.E.T) لګولي شوي دي نو دغه رنګ دې دَ پښتو دَ دغه نوي

نصاب دَ پاره (S.P.T) ولګولے شي ـ دَ تعلیم صوبائي سکرټري ما نه ډېر په وقار دا پوښتنه وکړه چې له خېره مونږه ټول پښتانهٔ یُوو نو پښتو ښودل خو هر څوک کولے شي ـ دَ پښتو دَ پاره بېل اُستاد هیڅ ضرورت نشته ـ نو دَ ملګري حنیف قېس په مشوره ما هغوي له جواب ورکړو چې بیا خو کار نور هم اسانیږي ـ مونږ له خېره ټول مسلمانان یو نو بیا دَ اسلامیاتو دَ خاص استاد هم څهٔ ضرورت نهٔ ښکاري، مونږ ټول ئي ښائیلے شو نو سکرټري صېب وخاندل او جواب ئي راکړو چې اوس دَ پښتو دَ مخصوص استاد په مطلب پوهـ شوم ـ

هر کله چې زمونږ استاد دَ خپل تهذیب، تاریخ او ثقافت نه ناخبره دے نو دَ هغهٔ شاګردان به څنګه دغه مرام تر لاسه کړي ـ دغه رنګ زمونږ میډیا هم ـ دَ میډیا که الیکټرانک ده او که پرنټ بې منزله بې مقصده لګیا ده ـ په اخبارونو او رسالو کښې دَ ډېرو ټکو صوري او املائي تېروتنې کیږي ـ دَ پردو لغاتو او ټکو کانې دَ خپلو لغاتو او ټکو په ملغلرو او غمو بر کېنلے شي ـ په رېډیو سمعي، صوتي او په ټي وي دَ صوري او دَ معنوي سره صوتي خامې هم ښکاري چې هیڅوک ئې تپوس نهٔ کوي او دَ املاء او انشاء خو هډو غړ مهٔ کوئ ـ ګڼي روزمرې، محاورې، متلونه، اړونه (دونې) بې لارې کیږي لګیا دي سر خوري ـ لکه په ټي وي اکثر کوربانهٔ دَ خور جمع خوریانې کوي ـ دَ رور جمع وروریان دَ ترهٔ جمع ترهٔ ګان دَ سپي جمع سپیان او دغه رنګ نور بې شمېره ټکي په یو مخ لګیا دي ورانوي ـ دغه زمونږ خپل زلمي او پېغلې دي چې تعلیم ئې په نورو ژبو کښې شوے دے ـ زهٔ چې دوي ته وګورم نو دَ دې متل په ټولو معنو ډېر ښهٔ پوهه شم چې " دَ کم عقل دوست نه هوښیار دُښمن غوره وي"

مولانا عبدالقادر دَ ژبې دَ ابلاغ دَ پاره اصول ټاکلي دي ـ

> "بې ضرورته او بې وجهې خپل الفاظ پرېښودل یا دَ نورو ژبو ناموزون الفاظ اخېستل دَ ذهني غلامۍ او تعلیمي خرابۍ بدترین ثبوت دے او هم دغسې ښکاري ـ لکه دَ ننني زمانې دَ مشرق زلمو چې خپل کړهٔ وړهٔ پرېښودل او دَ مغرب په چال روان شول ـ هغه ترېنه جوړ نهٔ شول او خپل هر څهٔ ئې بائیلل ـ دَ مشرق ننني تعلیم یافته زلمي دې دَ ځان ننداره په دې چشمو وکړي ".[xv]

پښتو څهٔ نا څهٔ په نصاب کښې ځلېده راځلېده خو چې کله دَ پرائیوېټ (شخصي) سکولونو فېشن راغے نو بیاخو پښتو داسې ورکه شوه چې په سکولونو کښې لیکل لوستل خو پرېږده هلته ئې په وئیلو قدغن ولګېدو ـ دَ پښتو لیک دود/لیکلار دَ باره ګلې دَ فېصلو نه پس یوه غوره او کوټلې منطقي رغونه ومونډله خو په لره پښتونخوا کښې نقصان دا وشو چې کوم خلق دَ پښتو په لیک لوست پوهېدل او نازېدل هغوي ترېنه هم په شا وتمبېدل او بل خوا په نصاب کښې دَ نشتوالي له کبله نوي خلق دَ پښتو نه لرې ډېر لرې پاتې شول ـ عن تر دې چې په وېنا کښې هم وخوئېدل ـ عام ادیبان، شاعران، صحافیان او دَ میډیا نور کار کوونکي تر خپله وسه تر خپله شوقه یا تر خپله ضرورته پښتو لیکي او لولي خو دغې ته هم مونږ معیاري پښتو نه شو وئیلے ځکه چې دَ ژبې او ادب ګڼ شمېره ښوونکي هم دَ معیاري املا او انشاء لیکلو جوګه نهٔ دي نو چې کله دَ پښتو ادب دَ استاذانو دغه حال وي نو دَ شاګردانو دې الله مل شي ـ بیا هم دَ الله مهرباني ده چې ځائے په ځائے دانه نیمه زیرک شاګردان زرغونیږي او ځلیږي ـ

دَ دغې نه لږ زیات بدتر حال دَ میډیا دے ـ کهٔ یو خوا دَ اېس اېم اېس په لاره دَ پښتو ادب خپرولو او ادبي ټولنو او جرګو دَ سرګرمو او خبرونو خپرولو ډېر مهم کار روان دے خو دغه کار په رومن ټکو کښې دوام لري چې مونږ ورته اعلیٰ معیاري نهٔ شو وئیلے ـ بل خوا ما دَ الیکټرانیک میډیا ګڼ شمېر دَ پښتو خپرونو کار کونکي لیدلي دي چې ځانته پښتو په رومن کښې لیکي یا ئې په خپله ذاتي املا کښې لیکي ـ البته دَ خبرونو دَ ژبې معیار کهٔ هر څو اعلیٰ نهٔ دے خو دَ نورو خپرونو نه تر ډېره حده غوره دے او دَ هغې وجه دا ده چې خبر ویاند دکاغذ نه لیکلي خبرونه وائي نو دغه ژباړلي شوي یا ښهٔ په سوچ لیکلي شوي وي ځکه ئې دَ معیار امکان زیات وي او دَ دې برعکس دَ تفریحي خپرونو کارکوونکي په عامه توګه ژباني وېنا کوي او بغېر دَ تیارۍ نه ئې کوي نو هغه دَ نورو ژبو دَ ټکو نه ډکه پښتو وي که مونږ ورته اچاري پښتووایو نو غلطه به نهٔ وي ـ

خو یوه خبره دَ ستائینې وړ ده چې دَ دغه ځوانانو هلکانو جینکو تعلیم او تربیت په نورو ژبو، نورو تهذیبونو او ثقافتونو کښې شوے وي نو دوي بیخي ګرم نهٔ دي چې دَ خپل قام اولس نه نهٔ دي خبرـ بیا ئې هم دَ شوق په وجه دَ خپلې ژبې او قام سره تړون شته او ورځ تر ورځ لګیا دي خبریږي او معیار ئې اوچتیږي ـ

سرکاري میډیا خو لږ ډېر څهٔ طور طریقي، قاعدي او ضابطي لري او مونږ ئي پوښتلے هم شو خو شخصي میډیا کله کله په ناپوهۍ کښې ډېرې ګټورې خبرې او چارې هم وکړي خو اکثر دَ ژبې او معلوماتو دَ غېر معیاري کېدلو ښکار دي ـ بله داده چې دوي خدمت په تندر نهٔ وولي خپل کاروباسي ـ

هر څوک زمـا غونـدي سـاده نـهٔ وي چې زيـار وبـاسـي
خلق پښـتـو مښـتـو پـه تـنـدر ولـي کـار وبـاسـي[xvi]

معیاري مال په ډېرو روپو کېږي او دَ شخصي میډیا کهٔ الیکټرانیک ده او کهٔ پرنټ دوي ډېرې روپۍ پخپله ګټل غواړي او چې کوم غېر معیاري یا خود غرضه (زما مطلب دَ ناتجربه کارو شوقیانو کارکوونکو نه دے) خلق دَ دوي سره کار کوي نو هغوي هم "میم زر ما تولهٔ زما" کوي ـ ژبه او قام دَ هغوي منزل نهٔ وي ځان او تش ځان ته کښې وهي ـ بیا هم په شخصي میډیا کښې یو څو تنه په شعوري ډول قامي مرام لورې ته روان دي ـ

میډیا ځانله پېشه ور لیکونکي او کار کوونکي پیدا کوي، تراشي اوجوړوي ـ دَ څهٔ مودې راسې دَ نورو ژبو برعکس په پېښور کښې دغه کار هم ډېر پیکه شوے غوندې دے ـ دَ پېښور رېډیو او ټي وي دَ خپلو غلطو منصوبو او کوتاهو په وجه نن سبا دَ معیاري لیکوالو نه محرومه دي چې د نتیجې په توګه دَ پښتو نوي ډرامه نګار نهٔ پیدا کېږي ـ یوه وجه ئي دا ښکاري چې دوي ځان له لیکوالان روزلي او پاللي نهٔ دي ـ سفارشیان ئي څهٔ موده وچلول نو چې کله ترېنه معیار پرېوت نو اوس ئي سترګي وغړېدې ـ دَ دې برعکس دَ نورو ژبو نشریاتي اداري خپلو هر رنګه فنکارانو ته ډېر احترام، مینه او درناوے ورکوي او دَ پښتنو فطرت دا دے چې دَ کوم فنکار/شخصیت سره ئي لیدل کتل نهٔ وي شوي نو ورته ډېر غټ او محترم ښکاري خو چې کله ورسره لیدل کتل او ناسته پاسته وکړي نو بیا ئي هېڅ نهٔ ګڼي ـ زمونږ نشریاتي اداري دَ وخت دَ غوښتنو سره سم تلل خو لویه خبره ده دَ وخت دَ غوښتنو ادراک هم نهٔ لري ـ

دوي هـر مـنـزل تـه پـه لـنـډو دَ رسـېـدو قـائـل دي
پښـتـانهٔ ځکه په سـمـسـور پټي کښـې لار وبـاسـي[xvii]

پېشه ور لیکونکي او فنکاران یو خوا ته دَ فن او ادب خدمت خپله پېشه او روزګار وګرځوي نو بل خوا دَ لوستونکو، کتونکو او اورېدونکو دَ ذوق، غوښتنو او ضرورتونو مطابق دَ هُنر مزل جاري ساتي ـ شوقیه فنکاران دَ نورو خلقو دَ خوښې ناخوښې هېڅ پروا نهٔ کوي ـ

قلندر مومند صیب دَ پېشه ور لیکونکو په حقله یو ځائے لیکي:

"لیکونکے هله پېشه ور کېږي چې هغه په دې پېشه ځان ساتلے شي ـ داسې نهٔ لکه چې اوس لیکونکے دَ ځان ساتلو دَ پاره نورې پېشې اختیاروي او بخښني ادب ته کوي ـ بیا به دَ لیکونکي مشغله دَ هغهٔ پېشه شي او لکه څنګه چې نورې پېشې دَ صنعت مقام حاصلوي دغسې به ادب هم دغه مقام حاصل کړي"ـ[xviii]

بل ځائے لیکي:

" څرګنده خبره ده چې پېشه ور لیکونکي په هوا کښې نهٔ شي پیدا کېدے. مونږ دَ هغو ټولو کلاسیکي لیکونکیو احسان مند یو چې دَ شوقیه لیکونکیو په حېث ئې زمونږ ادب ته عظیمې بخښنې کړې دي خو دَ نننې عصر تقاضا دا ده چې دَ ژبې، دَ ترقی دَ پاره دې لیکونکي دَ یوې " پېشه ورې" طبقې په حېث منظم شي"ـ[xix]

دَ محترم قلندر مومند صیب دَ بره ذکر شوو ارشاداتو نه پس زهٔ مجبور یم چې دا خبره په دعوٰی وکړم چې دَ نن نه خواو شا پنځلس کاله اګاهو دَ پښتو دَ کالم لیکلو معاوضه په وړومبي ځل ما اخستې ده. کله چې ما په ورځپانه وحدت کښې "اکو بکو سرسینډکو" کالم لیکل شورو کول نو دغه وخت څلور پینځه کاله ما په مشرق اخبار کښې اُردو کالم "ابشار" لیکلو او دَ هغې مې مناسبه معاوضه اخسته ـ چې کله پیر سفېد شاه همدرد صیب راته دَ پښتو کالم لیکلو ووئیل نو ماورته دَ معاوضې ووئیل ـ نو اول خو هغه حېران شو چې تر ننه خو

چا ته مونږ دَ کالم لیکلو معاوضه نۀ ده ورکړې خو بیا ئې غاړه کېښوده او دغسې سعد الله جان برق صېب او سلیم راز صېب دَ پاره مې ترې هم دَ معاوضې ورکولو یقیني وعده واخسته اود کالم لیکلو بلنه او درخواست مې هم دواړو ته ورکړو ـ

نن سبا په پوهنتونونو کښې په څېړن کارانو په زور دَ سائنسي اصولو په رڼا کښې په مختلفو موضوعاتو بشپړ مقالې لیکلے شي او خاص کر دَ پوهنتونونو په استاذانو یواځې دَ ایم فل او پي ایچ ډي مقالې نۀ بلکې په وظیفه کښې دَ پرمختګ دَ پاره کال و سر ګڼ شمېر مقالې لیکل لازمي شرط دے ـ دغه مقالې وخت په وخت چاپ کیږي، په انټرنېټ خپرېږي چې یو قسمه دَ پېشه ور لیکونکو پیدا کولو لوري ته یو ګټور ګام دے ـ

کۀ چرې مونږ په راتلونکو لس پنځلس کالونو کښې د پښتو د معیاري میډیا په ډګر کوټلي ګامونه وا نۀ خستل، د ریډیو او ټي وي دننه مود پښتو ژبې معیار لوړ نه کړو، حجرو ته مو انټرنیټ د مشرانو په نګرانۍ کښې ونۀ رسوو، دَ موبائیل کمپنو د ریکارډ کېدونکې پښتو معیار مو اوچت نۀ کړو او په ټولو سرکاري، پرائیوېټ، ټیکنیکل، پروفېشنل او ووکېشنل کالجونو او سکولونو کښې مو پښتو دَ لازمي مضمون په حېث رواج نۀ کړه نو بیا به ذهني طور ځان دې ته تیار کړو چې پښتو به په رومن یعنې دَ انګرېزۍ په تورو کښې لیکو ځکه چې نوے نسل پښتو څۀ ماته ګوډه وئیلے شي خو لوستلے او لیکلے نۀ شي ـ

نو زۀ به بیا په دې وېنا کښې په حقه یم چې :

دا تقدیر د پښتنو دے که وخت برګ دے
کۀ اولس مې ډېر بې شانه تیار لګ دے
نۀ پښتو کوې نۀ لولې نۀ ئې لیکې
نو دا ول دې دَ شملې څۀ رنګه جګ دے[xx]

★★★

Pukhtunkhwa Journal

## حوالې او حاشيې

[i] قرآن مجيد، سورة البقره، آيت ۳۱.

[ii] بخاري، سيد عظيم شاه خيال، ژبه، مشموله دَ نثر ګلدسته انتخاب (مؤلفين: پروفېسر جهانزېب نياز، پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټک، پروفېسر شاه جهان) ملت پبلشنګ کمپني چارسده، ۲۰۰۰ء، ص ۱۴۳تا ۱۴۴.

[iii] ، پښتو اکېډېمي پېښور پوهنتون، ۱۹۹۷ء، ص۲۹۱.7 شنواري، اميرحمزه، دَ حمزه شنواري کليات

[iv] شنواري، اميرحمزه،ژوند،جدون پرنټنګ پرېس پېښور، دَ چاپ کال نهٔ لري، ص۱٦٤.

[v] مولانا عبدالقادر، دَ فکر يون، يونيورسټي بک اېجنسي خيبر بازار پېښور، وړومبے چاپ ۱۹٦٤ء، ص۲۲٤.

[vi] داؤد، داور خان، دَ پښتو په درس او تدريس کښې شوې فېصلې، مشموله، پښتو پرون نن او سبا، (ترتيب: اسير منګل، سليم بنګش)، ص۱۵۷.

[vii] درانی، درویش، پروفېسر، **پښتو او د بلوچستان ښوونيز نظام (د کوټې د پښتو اکېډمۍ سيمنار ۱۲ ، ۱۳، ۱۴ ستمبر ۲۰۱۵)ناچاپه مقاله، ص ۳.**

[viii] پانيزے، پروفېسر، نظر، دَ پښتانهٔ قام ستونزې، پښتو او پښتانهٔ (نن سبا)، ترتيب اسير منګل، سليم بنګش، خوروونکے پښتو ادبي چمن ټل، ۲۰۱۲ء، ص ۱۹۷ - ۱۹۸.

[ix] عسکر، عمر ګل، پښتو او پښتانهٔ (نن سبا)، ص ۲۳۵.

[x] سليم راز، ترقي پسندي، پښتو او پښتونخوا، پښتو پرون نن او سبا، ترتيب اسير منګل، سليم بنګش، خوروونکے پښتو ادبي چمن ټل، ۲۰۰٦ء، ص ٦۳.

[xi] انشاء، ميا سهيل، ډاکټر، دَ پښتو پرون نن او سبا، ترتيب اسير منګل، سليم بنګش، خوروونکے پښتو ادبي چمن ټل، ۲۰۰٦ء، ص ۹۹- ۱۰۱

[xii] داؤد، داور خان، دَ پښتو په درس او تدريس کښې شوې فېصلې، مشموله، پښتو پرون نن او سبا، (ترتيب: اسير منګل، سليم بنګش)، ص ۱٦۰.

[xiii] درويش درانے، ستورې په لمن کښې، صحاف بک پبلشنګ انسټي چيوشن کوټه، څلورم چاپ ۲۰۱۱ء، ص ۲۲۹.

[xiv] سليم، سيف الرحمان، دَ وړو وړو خدايانو دې بنده کړم، يونيورسټي پبلشرز افغان مارکيټ قصه خواني بازار پېښور، مارچ ۲۰۰۸ء، ص۱۷۵.

[xv] مولانا عبدالقادر، دَ فکر يون، ص۱۱۸.

[xvi] اباسين يوسفزے، الوت، شعيب سنز مينګوره سوات، پنځم چاپ ۲۰۱٤ء، ص ٦۸

[xvii] همدغه اثر، همدغه صفحه ٦۸.

[xviii] قلندر مومند، د پښتو ادب عصري تقاضې، مشموله دَ نثر ګلدسته انتخاب،ص ۱۸٦.

[xix] همدغه اثر، ص ۱۸۵

[xx] اباسين يوسفزے، الوت، ص۲۱۲.

Pukhtunkhwa Journal